مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: هانس کریستین اندرسن
ژباړن: آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۱/۱۵

# د صنوبر ونه

## (Grantræet)

### دریمه او وروستۍ برخه

### H.C. Andersen



کوچنیان د لوبو ښکلي اسبابونه په لاس، د ونې شا و خوا ګډېدل. نور نو د صنوبر ونې ته هیڅ چا پام نه کاوه، یوازې یو بوډا سړی راغی او په ځیر یې د ونې څانګو ته په دې موخه کتل چې کوم انځر یا منه هلته پاتې نه وي.
کوچنیانو په جګ غږ سره نارې کړې:
«یوه کیسه! یوه کیسه!»
او له دې چغو سره یې یو پنډ ټیټ قدی سړی په کشولو، کشولو د ونې خوا ته راوست. سړی د صنوبر تر ونې لاندې کیناست او وې ویل:
«سړي یې داسې انګیري چې د ځنګله په منځ کې ناست وي، د صنوبر ونه هم کولای شي زما کیسې ته غوږ شي، خو زه به یوازې یوه کیسه تاسو ته و وایم. اوس نو ستاسو خوښه چې د «ایوید ـ آوید» کیسه غواړئ، که د «کلومپي ـ دومپي» کیسه چې له زینو راولوید، مهم سړی شو او له شهزادګۍ سره یې واده وکړ؟»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ځينو ناري کړې:
«ايويد ـ آويد»
خو ځينو نورو بيا چغې کړې چې:
«کلومپي ـ دومپي»
چيغو سورو تالار په سر اخيستی و، يوازې د صنوبر ونه غلې وه او له ځان سره يې داسې فکر کاوه:
«آيا زه هم کولای شم يوه کيسه ونوموم؟»
پنډ ټيټ قدي سړي د«کلومپي ـ دومپي» کيسه وکړه چې له زينو راولويد، خو مهم سړی شو او له شهزادګۍ سره يې واده وکړ.
کوچنيانو لاسونه وپړکول او نارې يې کړې:
«يوه بله، يوه بله.»
هغوی غوښتل چې د «ايويد ـ آويد» کيسه هم واوري.
د صنوبر ونه غلې او په ځړت کې ولاړه وه. ځنګلي مرغانو خو هيڅکله دا کيسه نه وه کړې چې «کلومپي ـ دومپي» له زينو لاندې ولويد، لوړ مقام ته ورسيد او له شاهزادګۍ سره يې واده وکړ!
د صنوبر ونې له ځان سره وويل:
«هوکې! د دنيا کارونه همداسې دي!» او ټوله کيسه باندې يې باور وکړ، ځکه چې د يوه مهربانه سړي له خولې يې اوريدلې وه. بيا يې له ځان سره ځړت وواهه:
«ورانده ځوک څه پوهيږي؟ ښايي کومه ورځ زه هم له زينو نه لاندې ولويږم يوه شهزادګۍ پيدا کړم!»
د صنوبر ونه په ډيره مينه او اميد سترګې په لاره شوه چې سبا شپه هم ښکلې او سينګار کړای شي، په څانګو کې يې شمونه، د لوبو اسباب، زرين شيان او ميوې راوځړوي. صنوبر له ځان سره سوچ وکړ:
«سبا به زه و نه ريږدم، له هغه پرتم او ښکلا نه به خوند واخلم. سبا به بيا د «کلومپي ـ دومپي» يا ښايي د «ايويد ـ آويد» کيسه واورم.»
د صنوبر ونه ټوله شپه غلې ولاړه وه او همدا ځړتونه يې وهل. سبا ته چې کارکونکي سالون ته رادننه شول، ونې فکر وکړ چې:
«اوس به مې ټول ښکلي او پرتميني شيان رابدلوي»؛ خو هغوی ونه په کشولو سره له سالون څخه ويسته او هلته لرې يې په يوه خځلداني غونډې تياره ځای کې وغورځوله.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«د دې کار مانا څه ده؟ اوس باید زه څه وکړم؟ مانا دا چې څه به پېښيږي؟» ونې له ځان سره همدا چورتونه وهل. شپې ورځې يو په بل پسې تيرې شوې، خو څوک د ځځلدانی خوا ته رانغلل، وروسته له ډیرې مودې کوم څوک راپیښ شول، هغه هم څه لوی صندوکونه هلته اېښودل او بیرته ته.
ونې بيا له ځان سره و ويل:
«فکر کوم چې دلته یې زه د دې له پاره ایښې یم چې اوس ژمی دی، مځکه ډیره کلکه ده او ټول ځایونه واورو پوښلې دي او دوی نه شي کولای چې ما په بڼ کې کینوي، د دې له پاره زه باید تر پسرلي پورې دلته پاتې شم. رښتیا دوی څه ښه خلک دي! خو کاشکې دا ځای دومره تیاره او ډارونکی نه وای، حتی یو وړوکی ښکلی سوی هم دلته نه شته چې په ځنګله کې به د واورې له لويدو سره، زما شاو خوا او پر سر باندې خینجتې او خیزونه وهل، خو اوس دلته هغه څه نه شته، دا یوازیتوب، وحشتناکه دی.»
په همدې شیبه کې یې څرهاری واورید او د څه شي ښکالو يې تر غوږه شوه. که ګورې چې يو وړوکی موږک ورته را نږدې کیږي. یو، بل ورپسې بل. ورو، ورو یې ونه بویوله او په څانګو يې ور ختل. یوه واړه موږک و ويل:
«دا ځای خو ډیر ښه ځای دی، خو افسوس چې ډیر سوړ دی! ته یې همداسې نه ګڼې د صنوبر زړې ونې؟»
د صنوبر ونې وويل:
«زه خو زړه نه یم، تر ما مشراني ونې هم شته.»
موږکانو پوښتنه وکړه:
«ته له کوم ځای نه راغلې يې او دلته څه کوې؟
موږ ته و وایه چې د نړۍ تر ټولو ښکلی ځای چیرې دی، آیا ته کوم ځلي هلته وې؟ آیا تا داسې خوړنتون لیدلی دی چې هلته پنیرونه په الماریو کې ایښې وي، غوښې له چت نه ښکته راځړیږي او سری په ګډا سره ډنګر ورننوزي او چاق بیرته ورنه راووزي؟»
ونې وويل:
«ما داسې ځای نه ليدلی او نه راته مالوم دی، خو ځنګل ښه پیژم، چیرې چې د لمر وړانګې په هر لوري خورې وي او الوتونکي سندرې وايي.»
بيا يې د خپلې ځوانی د دورې خاطرات هغوی ته وويلي. وړو موږکانو هیڅکله داسې شيان نه وو اوريدلي، ځکه يې په ډیرې مینې او پام سره غوږ ورته نیولی و. بیا موږکانو وويل:
«ډیر په زړه پورې شيان دې ليدلي دي! خامخا به هغه وخت ډیره خوشاله وې!»
د صنوبر ونې وويل:
«بلې!»
بيا يې د موږکانو د خبرو په باب فکر وکړ او وې ويل:
«هوکې! هغه ورځې په رښتیا سره چې ښې ورځې وې!»
بيا يې د کريسمس د شپې په باب هغوی ته کیسه وکړه چې په څانګو کې يې ډالی، خواږه او شمونه رازوړند کړي وو.
واړه موږک وويل:
«اوه! ته څومره نیکمرغه وې، زړې ضنوبرې!»
ونې وويل:
«زه خو زړه نه یم! زه په همدې ژمي کې له ځنګله نه راغلم! یوازې زما د بدن وده لږ سسته شوې ده!»
واړه موږک وويل:
«ته څه جالب او ښکلي داستانونه وایې!»
بله شپه وړوکی موږک له څلورو نورو موږکانو سره بیا راغلل څو د ونې کیسې واورې. د صنوبر ونه چې هر څومره د خپلو خاطراتو په باب غږیده، هغومره نور شیان هم وریادیدل او د نورو شیانو په باب یې فکر کاوه.
«په رښتیا هم ډیر ښه وختونه او خوشاله ورځې وې! کیدای شي چې بیا هغه ورځې راشي؟ «کلومپي ـ دومپي» له زینو ښکته راولوید او شهزادګۍ یې تر لاسه کړه، کیدای شي ما ته هم یوه شهزادګۍ را په برخه شي!»
د صنوبر ونه د یوې بلې وړې ونې په چورت کې لاړه چې په ځنګله کې، د دې په څنګ کې شنه شوې وه. دا وړه ښکلې ونه د صنوبر ونې له پاره یوه ریښتینې شهزادګۍ ښکاریده.
وړو موږکانو پوښتنه وکړه:
«دا «کلومپي ـ دومپي» بیا څوک دي؟»
د صنوبر ونې ټول داستان ورته بیان کړ. ونې کولای شول د هغه داستان هره کلمه په یاد کړي. موږک د داستان په اوریدو سره، له ډیرې خوشالی نه د ونې لوړو څانګو ته ورخيز کړل. بله شپه نور موږکان هم صنوبر ونې ته راغلل او د یکشنبې په ورځ دوې مږې (غټ موږک) هم له نورو موږکانو سره یو ځای صنوبر ونې ته راغلل، خو د ونې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کيسه يې دومره خوښه نه شوه او په دې باندې واړه موړکان خواشيني شول. اوس د وړو موړکانو ته هم د صنوبر د ونې کيسه دومره په زړه پورې نه ده او چندان خوند نه ورکوي. مړو (غټو موړکانو) د صنوبر ونه وپوښتله:
«د تا يوازې يوه کيسه زده ده؟»
ونې په ځواب کې ورته وويل:
«هو، همدا يوه کيسه مې زده ده! او دا مې هم د خپل ژوند په تر ټولو ښه او خوشاله شپه اوريدلې ده، هغه وخت نه پوهيدم چې زه څومره نيکمرغه وم!»
موړکانو وويل:
«دا داستان له موده لويدلی او خراب دی، کوم داسې داستان چې د ډوډۍ د ميز په باب وي، نه دې ده زده؟
ونې وويل:
«نه»
مړو (غټو موړکانو) وويل:
«سمه ده، مننه!»
او خپلو ملګرو ته ورغلل.
څو ورځې وروسته واړه موړکان هم له صنوبر ونې څخه ولاړل. ونې سوړ اسويلی وايست او وې ويل:
«کله به چې واړه موړکان شاو خوا را ته ناست وو او زه به ورته غږيدم، څومره ښه و، اوس هغه ورځې هم تيرې شوې. کله مې چې له دې ځايه وباسي، کيدای شي بيرته خوشاله شم.»
دا څه پيښ شول؟
يوه ورځ سهار مهال و، چې خلک راغلل او د خځلدانی توکي يې لاندې باندې کړل، لوی صندوقونه يې يوې خواته کړل، ونه يې له هغه ځايه راويسته او پر مځکه يې کلکه وغورځوله. يو تن راغی او ونه يې په کشولو سره له زينو څخه لاندې يوړله. رڼا ورځ وه، ونې له ځان سره فکر وکړ:
«لکه چې بيا ژوند له سره پيل کيږي!»
تازه هوا او د لمر لومړنی وړانګه يې احساس کړه. يوه شيبه وروسته بيا د حويلی په منځ کې پرته وه. دا هر څه په ډيره چټکتيا تر سره شول. د ونې شا و خوا ته د ليدلو له پاره هر څه نوي وو او دې هير کړل چې د ځان په هکله فکر وکړي.
حويلی داسې وه لکه يو بڼ، بوټو او ونو غوټۍ کړې وې، سره ګلاب تازه او پر اوسپنيزو کټارو باندې را زوړند وو او ښه بوی ورنه جګيده، د ونو غوټی هم ډيرې ښې ښکاريدې، توتکی په هوا کې الوتلې او چقهاری يې کاوه.
ونې په ډيرې خوشالتيا سره وويل:
«بيا راژوندۍ او تازه کيږم!»
خپلې څانګې يې سره خلاصې کړې او وې غوړولې، خو په خواشينی سره چې ټولې څانګې زيړې او وچې شوې وې. ونه د حويلی په يوه څنډه کې د خسو او هرزه ګياوو په منځ کې پرته وه او د نوي کال کاغذي زرين ستوری يې پر سر باندې لا بند و او د لمر تر وړانګو لاندې ځليده.
هلته په حويلی کې څو بې پروا کوچنيان په خوشالی سره لوبې کولې. دا هماغه کوچنيان وو چې د کرسمس په شپه يې د همدې صنوبر ونې چارچاپيره ګډا کوله او د همدې ونې په پار يې خوښي او مستې کوله. د دې کوچنيانو له ډلې نه تر ټولو کوچنې منډې کړې، کاغذي زرين ستوری يې له څانګې څخه راوشکاوه او نورو ته يې غږ وکړ:
«وګورئ چې په دې بدرنګه او زړې ونې پورې څه شی ښتې دی!»
او دومره يې د ونې د څانګو د پاسه خينجتې ووهلې چې څانګې يې توټه ، توټه کړې. ونې د ګلانو بوټو او له غوټيو ډکو ونو ته کتل، بيا يې ځان ته وکتل او د زړه له کومې يې هيله وکړه چې کاشکې په هماغې تياره خځلدانی کې پاتې وای.
ونې د خپلې ځوانی، په ځنګله کې د خپل ژوند، د نوي کال له خوښيو ډکې شپې او د وړو موړکانو په باب فکر کاوه چې څنګه هغوی د «کلومپې ـ دومپې» کيسې ته غوږ نيولی و.
بد مرغې ونې وويل:
«اوس ناوخته ده، کار له کاره تير دی، کاشکې زه هم د ژوند په قدر پوه شوې وای او خوند مې ورنه اخيستی وای، افسوس چې هغه وخت تللی او اوس پښيماني کومه ګټه نه لري!
د کار عمله بيرته راغله او په يو تيره تبر سره يې ونه ټوټې، ټوټې کړه او د سون توکي يې ورنه جوړ کړل.
کله يې چې د ونې ټوټې په نغري او ديوالي بخارۍ کې کيښودې او اور يې ور واچاوه، لمبو يې کوټه روښانه کړه، نو صنوبر د زړه له تل څخه يو آه ويست. کوچنيان په منډه راغلل، اور ته کيناستل او ننداره يې کوله او ونې په جګ ترقهارې سره آهونه ويستل:
«پيف، پف، پوف!»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

د اور له هر سپخنکي سره، چې د ونې آهونه وو، صنوبر ته د ځنګله د اوړي  يوه ورځ او يا د ژمي د يوه شپه ورياديدله، هغه ستوري به ور په ياد کيدل چې د دې سر پورې به ځليدل. هغې د کرسمس د شپې او «کلومپي - دومپي» د کيسي په باب فکر کاوه، د هغه يوازيني داستان په باب چې په ټول عمر يې يو ځل اوريدلی و او کولای يې شول چې بيا ځلي يې ووايي. په لږ وخت کې ټوله ونه وسوځيدله او په ايرو بدله شوه.
کوچنيانو لا په حويلی کې لوبې کولې او تر ټولو کشر يې د ونې هغه ستوری پر سينه ټومبلی و چې د نوي کال په شپه د صنوبر د ژوند په تر ټولو ښه شپه پر سر درلود.
ځنګه چې هغه شپه تيره شوه او د ونې ژوند پای ته ورسيد، دا کيسه هم پای ته ورسيده. تير، تير دي، ټول داستانونه به يوه ورځ پای ته ورسيږي.

پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 2, 199 – 216 s, 1994, Odnsa, Denmark


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ